مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

لیکوالان: لیون پولادا او لیلا پولادا Leon B. Poullada & Leila D.J Poullada ۲۰۲۰/۱۰/۰۳
مترجم: عبدالباري جهاني

# د افغانستان شاهي دولت او متحده ایالات

## The Kingdom of Afghanistan and the United States: 1828-1973

نهمه برخه

دا کتاب د متحده ایالاتو مورخ او ډیپلومات لیون پولادا او د هغه میرمني لیلا پولادا لیکلی دی. که څه هم چي ټول کتاب د افغانستان او امریکاد اړیکو په اړه دی خو ځیني فصلونه یي د افغانستان له اوسنیو حالاتو سره مستقیم تړاو لري ما یي هغه د ترجمي لپاره انتخاب کړي دي. زه یقین لرم چي دا فصلونه به د افغانستان د تاریخ د علاقه مندانو او تاریخ د شاګردانو لپاره په زړه پوري وي.

## اتم فصل

### پوځي مرستي ـ لومړی برخه: اداري مشکلات

د افغانستان او امریکا مقاماتو د ۱۹۴۸ کال په اوږدو کي پر دي موضوع باندي نوري خبري هم سره وکړې. امریکایانو ویل چي دوی به د افغانستان پر غوښتنه باندي غور وکړي؛ مګر په حقیقت کي دا موضوع همداسي بې نتیجي غځېدله او د وسلو د غوښتني موضوع همداسي ناحله پاته وه. په دغه موده کي کانګریس د دوه اړخیز امنیت او له بهر سره د پوځي مرستو د پروګرامونو په باب غور کاوه او د افغانستان مسله هم د کانګریس د جریان بشپړېدلو ته معطله وه.

د ۱۹۴۹ کال د جون په میاشت کي، افغانستان دا خاموشي ماته کړه او سفارت ته یي اطلاع ورکړه چي دوی غواړي د وسلو د خریداری لپاره یو هیات واشنګټن ته واستوي. کله چي دا اطلاع واشنګټن ته ورسېده نو خارجه وزارت سمدستي په کابل کي سفارت ته اطلاع ورکړه چي افغانانو ته ووایي چي د دغه راز هیات د لیږلو او د وسلو د خریداری په برخه کي له زیات فشار اچولو څخه لاس واخلي ځکه چي دا یو نامناسب وخت دی. یو خو په کانګریس کي د دوه اړخیز امنیت په باره کي فیصله نه ده سوې بل دا چي د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اختلاف له امله شرایط نا مساعد دي.

په ۱۹۴۹ کال کي د دوه اړخیز امنیت لایحه قانون سو او عبارت یي داسي وو چي د دې قانون هدف له هغو هیوادونو سره پوځي مرستي کول دي چي د کمونیزم سره مقاومت کوي او دې عبارت افغانانو ته بیا یوه هیله ورپیدا کړه.د دوی په فکر افغانستان په هغه کم شمېر هیوادونو کي وو چي د روسانو د توپ خولې ته ولاړ وو. د هغه کال د اګست په میاشت کي په کابل کي د امریکا سفارت بیا دا مسله راپورته کړه او توصیه یي وکړه چي افغانستان ته باید د پوځي مرستو په برخه کي مثبت جواب ورکړه سي. د خارجه وزارت په پیغام کي راغلي وه چي د متحده ایالاتود پوځي مرستو د پالیسی په باره کي د افغانستان بېخبري بنایي په هغوی کي دا احساس قوي کړی وي چي متحده ایالات د افغانستان له امنیت سره علاقه نه لري.

### واشنګټن د اګست د میاشتي پر دوه ویشتمه جواب ورکړ:

«د پوځي مرستو د لایحي اصلي متن، چي تازه پاس سوی دی، هغو هیوادونو ته د پوځي مرستو ورکول منظوروي چي د کمونیستانو د یرغل په مقابل کي د دفاعي قوت غښتلي کېدل یې د متحده ایالاتو د ګټو لپاره مهم وي. خو دغه ماده د لایحي له وروستي متن څخه لیري سوه نو اوس یوازي ناټو، یونان، ترکیه، ایران، کوریا، فیلیپین او بل هر هغه هیواد چي له متحده ایالاتو سره په دسته جمعي دفاع او سیمه ایزو سازمانونو کي شاملیږي د دغو مرستو څخه ګټه اخیستلای سي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

که څه هم چې د افغانستان حکومت له خارجه وزارت سره، په دغه برخه کې، رسماً تماس نه دی نیولی او د افغانستان له خوا د پوځي مرستو هیڅ رسمي غوښتنه موږ ته نه ده را رسېدلې. سفارت باید دا موضوع را پورته نه کړي بلکه په غیر رسمي توګه د افغانستان مقاماتو ته د کانګریس د فیصلې د محدودیتونو په باره کې اطلاع ورکړي. »
دغه له فرېبه ډک جواب د افغانستان د غوښتنې هیات هم غلط معرفي کړی دی. کله چې یو منل سوی سفیر د یوه وزیر په ملګرتوب له چا سره خبري کوي او وایی چې خپل حکومت یې صلاحیت ورکړی دی چې د خارجه وزارت له مقاماتو سره خبري وکړه، څوک به دغه راز یوه غوښتنه څرنګه غیر رسمي وبولي؟ افغانانو واقعاً فکر کړی وو چې دوی رسمي خبري او رسمي غوښتنه کوي. پردې برسېره واشنګټن په دې نه پوهېدی چې افغانستان د پوځي مرستو په برخه کې له داسې لیست څخه ایستل کیږي چې په هغه کې ایران او ترکیه او اسلامي هیوادونه، چې له روسیې سره ګډ سرحد لري منل کیږي. دا خو په حقیقت کې د افغانانو غرور او حیثیت ته یو ګوزار دی.
د افغانستان حکومت، بیا هم په ډېره ارامي، دا تریخ غوړپ پر ځان ومانه. دوی ته اوس هم په یاد وه چې امریکایانو د جنګ په دوران کې څرنګه د دوی اقتصاد له بحران څخه وژغوره. د هغه ښو احساساتو د وخت تجربه یې اوس هم په یاد وه او اوس یې لا هم د امریکا په ښه نیت باور درلود. کله چې د ۱۹۴۹ کال په وروستیو شپو کې داوود خان د دفاع وزیر سو نو د افغانستان لوی درستیز جنرال مستغني یې د امریکا سفارت ته واستاوه او سفیر ته یې پیغام ورکړ چې داوود خان غواړي ورسره وګوري او د پوځي مرستو په باره کې ورسره وږغیږي. جنرال غني دغه راز وویل چې افغانان له دې امله ډېر ناهیلي دي چې امریکا د دوی امنیتي اړتیاوو ته هیڅ توجه نه کوي. پوځی اتشه په جواب کې ورته وویل چې د امریکا حکومت ته په دې برخه کې رسمي غوښتنه نه ده رسېدلې او نه د افغانستان وسله والو قواوو د اړتیاوو بشپړ لیست ورته رسېدلی دی.
کله چې داوود خان ته دا جواب ورسېدی نو هغه جنرال مستغني بیرته سفارت ته واستاوه او هغه ته یې وویل چې د ده ورور سردار نعیم په واشنګټن کې خارجه وزارت ته ورغلی وو او د پوځي مرستو بشپړ لیست یې هم ور وړی وو مګر د خارجه وزارت منفي جواب ماءیوس کړی وو. داوود خان پر دې خبري ټینګار کړی وو چې افغانستان، د اروپا او ترکیې په تناسب، ډیري لږ وسلې غواړي او د خپل وس سره سم به د تولو هغووسلو پیسې هم تادیه کړي چې ستاسې څخه یې ترلاسه کوي.
د امریکا سفارت د نظر د دغه تبادل په باب واشنګټن ته رپوټ ورکړ او توصیه یې وکړه:
د داخلي امنیت لپاره، د افغانانو غوښتنه پر ځای ده او افغانستان د متحده ایالاتو له هغې پالیسی سره برابر دی چې وایي په سیمه کې د دوستو هیوادونو له ثبات او خپلواکی سره مرسته کوي. دا به ښایي د خارجه وزارت هم آرزو وي چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اختلاف په حلولو کې نفوذ ولري او له یوی مشروطي مرستي سره خپل نفوذ هم زیاتولای سي. آیا امریکا به پر دې مسله باندې غور وکړي چې افغانستان په یوه سیمه ایز پکټ کې شامل کړي او په دې صورت کې یې د کانګریس د اوسنی لایحې سره سم د پوځي مرستو لپاره وړ وګرځوي؟
خارجه وزارت د ۱۹۴۹ کال د ډسمبر پر شلمه سفارت ته هدایت ورکړ چې د افغانستان له حکومت سره د متقابلې دفاع د مرستو د قانون په اساس د هیڅ ډول امتیاز اخیستلو په باره کې بحث ونه کړي. د ډله ایزې دفاع ترتیبات یوازې د ناټو د غړوهیوادونو او یا په رایو Radar Intercept Officer_ RIO د رادار د مخنیوي افسر، ټرون کې شاملو هیوادونو لپاره په نظر کې نیول سوي دي. د یونان، ترکیې او ایران د وسله وال کولو لپاره څکه خاص ترتیبات په نظر کې نیول سوي دي چې هغوی ته د شوروي ښکاره تهدید متوجه دی. په نیژدې ختیځ او جنوبي اسیا کې، چې افغانستان هم ښایي پکښې شامل وي، د سیمه ایزو ټرونونو د جوړولو لپاره پلانونه لا اوس له وخت څخه مخکې خبري دي. خارجه وزارت، پر دې برسېره، د سفارت د دې توصیې په باره کې شک ښودلی وو چې له افغانستان سره د پوځي مرستو رشوت به ګوندي د پښتونستان د مسلې په حلولو کې مرسته وکړي. واشنګټن لیکلي وه چې سفیر سردار نعیم او د هغه سره ملګري هیات ته نه دې ویل سوي چې د وسلو غوښتنه مه کوی، بلکه افغانانو پخپله د دغه لیست ورکول ځنډولي دي او وایي چې د لیست ترتیبول ډېر زیات غور ته ضرورت لري. سفارت ته هدایت ورکړه سوی وو چې هیڅ داسې کار ونه کړي چې افغانستان ته د وسلو د مرستې هیله ور پیدا کړي.
داسې نه وه چې دا بیروکراتیک او له ابهامه ډک لیک په تلوار او بې سنجشه لیکل سوی وي بلکه. پر دې لیک باندې البرټ جي مېټیو، ډ تامس ویل، ریچرډ لیچ، او ارنیسټ فاکس په مرسته کار کړی وو او د نیژدې ختیځ اوجنوبي اسیا د څانګې یوه عالي رتبه مامور ویلیم رونټري تر نظر تېر کړی وو. د دې مکتوب لیکونکي ټول تجربه کار ډیپوماټان وه او د افغانستان په باره کې یې هم ښه معلومات درلودل. په دې کې شک نسته چې رونټري به یو ځل د خارجه وزارت له عالي رتبه مقاماتو سره کتلي او بیا به یې نو افغانستان د پو ځي مرستو اخیستونکو هیوادونه له لیست څخه ایستلی او ناوړه بللی وي.
د دې لیکونو په تبادله کې یو شمېر ډېر مهم ټکي دي چې باید توجه ورته وسي. د لومړي ځل لپاره د پښتونستان مسله رسما له پوځي مرستو سره و تړل سوه. په کابل کې د امریکا سفارت هیله درلوده چې له دې موضوع څخه به داسې استفاده وکړي چې واشنګټن به له افغانستان سره پوځي مرستو ته تشویق کړي؛ مګر خارجه وزارت، د وسلو له اخیستلو سره، د دې مسلې تړل په کلکه رد کړ. په ۱۹۴۹ کال کې دغه نرۍ وریځ بالاخره په داسې توپان بدله سوه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

چي افغانستان خپلواکي له لاسه ورکړې. بل ټکی دا دی چې امریکا غوښتل د یونان، ترکیې او ایران لپاره، د پوځي مرستو په برخه کي، استثنایي حالت ومني مګر پر افغانستان باندي، په لوی لاس، سترګي پټي کړي. دا چې متحده ایالاتو، شوروي اتحاد، یونان، ترکیې او ایران ته تهدید باله او افغانستان ته یې خطر نه باله، که د جغرافیائي واقعیتونو او قدرت له نظره ورته وګورو، نو یوه غلطه او غم لړلي ستراتیژي وه. د متحده ایالاتو دې دریځ د افغانستان حکومت هک حیران کړ او شوروي اتحاد یې په دې عقیده کړ چې امریکا له افغانستان څخه لاس اخیستی او پر میدان یې پرې ایښی دی؛ او هغه هیواد یې د شوروي د نفوذ د ساحي په حیث پېژندلی دی. دغه غم لړلي غلط فهمي، بالاخره په ۱۹۷۹ کال کي، پر افغانستان باندي د شوروي د یرغل سبب سو. د دغو پیغامونو لهجې بالاخره په کابل کي د امریکا سفارت دې ته راووست چې خارجه وزارت ته یې ولیکل چې له افغانستان سره د وسلو د مرستو په برخه کي لږترلږه خواخوږي قدر وښیي. مګر خارجه وزارت دغه کار هم ونه کړ او په هره خبره کي یې نن و سبا کوله او ځکه یې دغو بیروکراټیکو میرزایي ګانو ته داوم ورکاوه چې ځان یې له څرګندو او سختو فیصلو له کولو څخه ژغوری.

د پیغامونو له دې تبادلې څخه د امریکا د ډیپلوماټیک سلوک یو مهم مثال ښکاره کیږي. امریکا په خپله ډیپلوماسي کي، هر وخت غواړي چې ګراني او سختي فیصلې په بیروکراټیکو حرکاتو کي وپیچي. کله چې افغانستان په وروسته کي بیا د وسلو په برخه کي د مرستو غوښتنه وکړه نو امریکا له همدغه سلوک څخه کار واخیست. امریکا، په خپله ډیپلوماسي کي، له دغه سلوک څخه ډېر زیات کار اخیستی او تر نني ورځي پوري یې اخلي؛ په ډیرو ځایونو کي یې د ډیرو مهمو مسایلو په مقابل کي یو ډول بېغمي ښودلي او کارونه یې ببځایه ځنډولي او دغي پالیسی تر نن ورځي پوري هر ځای ستونزي ورته جوړي کړي وي. په تېره بیا چې خبره د دریمي نړۍ د هیوادونو سي چې د امریکا د حکومت د دغه راز پېچلي پالیسی سره هیڅ بلد نه دي.

د افغانستان حکومت د ۱۹۴۹ کال په اوږدو کي، په کابل کي د امریکا د سفارت له ډیپلوماټانو سره د پوځي مرستو خبره څو ځله را پورته کړه. بالاخره سفارت پر وضع باندی یو ځل بیا غور وکړ او د ۱۹۵۰ کال د جنوري پر څلورمه یې خارجه وزارت ته یو ټلګرام واستاوه او پر افغانستان باندي یې د وسلو د پلورلو توصیه ورته وکړه؛ څو په دې وسیله د شوروي د نفوذ مخه ونیوله سي، د افغانستان او امریکا دوستي ټینګه سي، د افغانستان داخلي امنیت وساتل سي او له پاکستان سره د اختلافاتو د حلولو لپاره لار هواره سي.

په واشنګټن کي د امریکا د سفارت پر دې توصیو باندي ښه ډېره موده غور وسو. په دغه وخت کي د متقابلي دفاع د مرستو د قانون ، چې تازه منظور سوی وو، د عملي کېدلو پر لارو چارو باندي بیوروکراټیک عملیات روان وه او د افغانستان په برخه کي فیصله په ټپه ودرېده. دغه ځنډ هم د ۱۹۵۱ کال د مارچ په میاشت کي هغه وخت لیري سو چې د نیژدې ختیځ او جنوبي اسیا په چارو کي د خارجه وزیر مرستیال جورج مګي کابل ته سفر وکړ. د دغه سفر په نتیجه کي یوه له هغو غلط فهمیو څخه منځته راغله چې له افغانستان سره د پوځي مرستو کېدل یې له دایمي ځنډ سره مخامخ کړ. د خارجه وزارت له کاغذونو څخه ښکاري چې سردار داوود خان، چې تازه د جنګ د وزیر په حیث مقرر سوی وو، له امریکا څخه د پوځي مرستو د غوښتنو په باره کي، د افغانستان مخکنیو تماسونو ته اشاره وکړه او له مګي څخه یې وغوښتل چې افغانستان څه وکړي چې له امریکا څخه د پوځي مرستو د ترلاسه کولو وړ وګرځي.

د دغو خبرو په باب یاداشت کي راغلي دي چې مګي د داوود خان په جواب کي وویل:

۱ ــ افغانستان مخکي هیڅ رسمي غوښتنه نه ده کړې. سفارت ته باید یو رسمي یاداشت وسپارل سي او له هغه سره د مشخصو غوښتنو یو لیست ملګری سي.
۲ ــ له افغانستان سره د پوځي مرستو په برخه کي یوازینی قانوني ماده د متقابلو دفاعي مرستو د ۱۹۴۹ کال د قانون 408e برخه ده.
۳ ــ له کوریا، یونان، ترکیې او نورو هیوادونو سره د متحده ایالاتو تعهداتو، له نورو هیوادونو سره د پوځي مرستو کول ډېر مشکل کړي دي.
۴ ــ سره له هغه به هم د افغانستان له غوښتني سره خواخوږي وښودله سي.

دا څلورمه ماده وه چې د دواړو هیوادونو ترمنځ یې یوه کلتوري ستونزه پیدا کړه. د امریکا په ډیپلوماسي کي پر یوې غوښتني باندي په خواخوږۍ غور کول د سرسري کتلو معنی لري. د دې خبري معنا په هیڅ توګه د زړه د ښه کولو نتیجه نه وه. مګر د داوود خان وررور سردار نعیم، چې په دې غونډه کي حاضر وو، داسي نتیجه اخیستي وه چې مګي ډېر مثبت نظر درلود. او مطلب یې دا وو چې که یوه غوښتنه، په رسمي توګه، د مناسبو لارو وسي، نو منظوره به سي. مګي دا خبره په مطلق ډول ردوي چې د ده مطلب دي له افغانستان سره د پوځي مرستو د کېدلو امکان وو.
دا حقیقت دی چې د افغانستان غوښتنو ته، تر دغه وخته پوري، دغه ډول ګونګ جوابونه ورکړه سوي وه. د دې مشکل اساس بیا هم کلتوري ستونزه وه. امریکایانو اصلا هغه رسمي غوښتنه هم نه منله چې مخکي یې په هغه باره کي فیصله کړې نه وه. دغه علت وو چې کله افغانستان ته وویل سوه چې یو مشخص رسمي درخواست باید موجود


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

وي؛ او هغوی دغه درخواست کړی وو نو دوی داسي وانګېرله چي ګویا امریکا د دوی وروستی غوښتني ته مثبت جواب ورکړی دی. د ۱۹۵۱ کال د اګسټ پر دیارلسمه، د افغانستان حکومت د امریکا سفیر جورج میریل ته، د داوود خان او مګي تر منځ د خبرو په اساس، د هغو وسلو یو بشپړ لیست ورواستاوه چي افغانستان باید له امریکا څخه تر لاسه کړي وای. دا یاداشت واشنګټن ته ورسېدی او هلته یې یوه هلهله جوړه کړه. خارجه وزارت د جنګ له وزارت، سپیني ماڼۍ او نورو حکومتي ادارو سره سلا مشورې وکړې او بالاخره یې د ۱۹۵۱ کال د نومبر پر اووه ویشتمه په کابل کي خپل سفارت ته جواب ولیکی. سفارت ته هدایت ورکړه سوی وو چي د افغانستان شاهي دولت ته داسي جواب ورکړي:

۱ ـ څرنګه چي له متحده ایالاتو څخه د وسلو د رانیولو په برخه کي ډېري زیاتي غوښتني سوي دي نو نه سي کولای چي، افغانستان ته، په لیست کي دا ټول ذکر سوي شیان ورکړي.
۲ ـ په لیست کي د ځینو موادو او وسایلو ترمنځ، چي همدا اوس یې افغانستان لري، توافق نه دی موجود. د مثال په توګه د افغانستان پوځ داسي توپونچي لري چي ۳۰۳ کالیبر مرمی استعمالوي؛ او افغانستان د ۳۰ کالیبر مرمیو غوښتنه کړې ده.
۳ ـ په لیست کي د ځینو درنو توپونو د پرزو په څېر شیان ذکر سوي دي چي، د امریکا د پوځي متخصصینو په نظر، افغانستان ضرورت نه ورته لري. پر دې موادو باندي باید دواړه هیوادونه له سره ګډ غور وکړي.
۴ ـ دغه مواد، چي افغانستان یې غوښتنه کړې ده ډېر ګران تمامېږي او قیمت یې پنځه ویشت میلیونو ډالرو ته رسیږي. آیا افغانستان دونه پیسي لري چي دا مواد په رانیسي؟ پیسي باید، مخکي له مخکي، نغدي تادیه سي؛ ځکه چي د دې شیانو لپاره پور نه ورکول کیږي.
۵ ـ د متقابلي دفاع د مرستي قانون د افغانستان له حکومت څخه د مشخصو تضمینونو غوښتنه کوي:

الف ـ دغه وسلي باید، د ملګرو ملتونو له منشور سره سم، یوازي د سولي او امنیت لپاره استعمال سي.
ب ـ وسلي باید یوازي د داخلي امنیت او د دفاعي مقاصدو لپاره استعمال سي.
ج ـ دغه وسلي باید، د متحده ایالاتو له اجازي پرته، بل چا ته ونه سپارل سي.
د ـ د دغو وسلو په باب موافقتنامه باید له ملګرو ملتونو سره قید سي او باید عامه سي.
هـ ـ دا وسلي باید د متحده ایالاتو له بندرونو څخه واخیستل سي او، په پاکستان د ټرانزیټ په شمول یې، د انتقالولو ترتیبات پخپله افغانستان ونیسي او متحده ایالات په دې برخه کي هیڅ مرسته نه سي کولای.
و ـ پر افغانستان باندي د دې وسلو د خرڅلاو لپاره به هغه وخت لاره هواره سي چي افغانستان د پاکستان پر ضد د پښتو نستان تبلیغات نرم کړي.

د امریکا سفیر میریل، دا ټول شرایط، د ۱۹۵۱ کال د ډسمبر پر اتمه، د افغانستان صدراعظم شاه محمود خان ته، په یوه یاداشت کي وسپارل. صدراعظم دا جواب یو سیاسي رد وباله. ده وویل د وسلو د خریداری لپاره شرایط داسي وضع سوي وه چي د افغانستان لپاره یې یوازي په هغه صورت کي رانیول ممکن کړي وه چي له خپلواکی څخه تېر سي. سردار داوود او کابیني ته په دې خبره قناعت ورکاوه چي امریکایانو بالاخره، پر افغانستان باندي، د وسلو د پلورلو سره د حکومتونو ترمنځ د رسمي مستقیم تماس په شرط موافقه کړې ده. دی پوهېدی چي د خپل دریځ لپاره ښه دلایل نه لري؛ او ده پخپله د امریکا ځواب افغانستان او شخصاً خپل ځانته سپکاوی باله.
له متحده ایالاتو څخه د پوځي مرستو د اخیستلو لپاره د افغانستان لومړني کوښښونه دا ښیي چي د افغانستان حکومت د امریکا له شخصي شرکتونو او د امریکا له حکومت څخه د وسلو د پیرودلو لپاره له هر فرصت څخه ګټه اخیستې او ټول وس یې تمام کړی دی. هر ځل دوی له بې شمېره بیروکراتیکو خنډونو سره مخامخ سوي او لیدلي یې دي چي امریکا د دوی له داخلي امنیت سره هیڅ علاقه نه لري. په افغانستان کي د امریکا سفارت عموماً د افغانستان د دغې غوښتني ملاتړ کړی دی مګر واشنګټن د هغوی د غوښتنو د ردولو لپاره هر وخت بېځایه پلمي کړي او یا یې د دوی په غوښتنو کي بیخي ری نه دی وهلي. تر ۱۹۵۱ کال پوري د امریکایانو دې ساړه وضعیت د افغانانو له زړونو څخه هغه مینه وایستله چي د جنګ په کلونو کي یې د امریکا د مرستو له امله د هغه هیواد سره پیدا کړې وه. خو د افغانستان او امریکا په پوځي اړیکو کي اساسي او مهم کلونه، چي په راتلونکي فصل کي به یحث وربا‌ندي وسي، د ۱۹۵۱ او ۱۹۵۴ کلونو ترمنځ وختونه وه. له پاکستان سره د امریکا اړیکو وضع ډېره پېچلې کړه او امریکا د خپل یوه دوست هیواد په مقابل کي د خپل متحد هیواد ملاتړ وکړ.

نوربیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ